# کمونستي اصطلاحات

عبدالباري غيرت

د شريعياتو ليسانس - د ادبياتو ماستر

١٣٦٤

# اهداء

زه خپل دا اثر محترم اختر محمد کندهاري ته اهداء کوم ؛ هغه چا ته چه د اسلام په درد دردیدلی د وطن په فراق کریدلی ، د ویښ زړه اود خوارې صحبت خاوند دی .

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

# کمونستي اصطلاحات

عبدالباري غيرت

د شرعياتو ليسانس - د ادبياتو ماستر

۱۳٦٤

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

زما دا اثر په دا سې حال کې چاپیریې چه د روس له خوا په افغانستان او نورو بشکیل شویو هیوادونو کې کمونزم نورله غولونو ، مکرونو او فریبونو څخه راووت ، څکه دلته دا سراب خلکو وپیژانده او نور یې و نه شوکولی چه افغان ولس او نور ورته هیوادونه و غولوي .

نو څه یې وکړل ؟

په وحشت یې لاس پورې کړ ، کورونه او جوماتونه یې بمبارې کړل ، انسانان او حیوانات یې

نېست او نابود کړل او هغه فجایع يې وکړل چه تاریخ يې
په ښېټلو شرمېږي ، خلکوته ښکاره شوه چه دا دکمونزم
سراب اوبه نه دي اوهسې تربې انسانان له لېرې داوبو
ګوهان پېرې کوي . په داسې حال کې چه روسي
کمونزم په افغانستان کې جنایات کوي ، تعجب دادی
چه بیا هم د نړۍ په ځینو کوټونو کې هواخواهان لري او
د دوی پېرغل او وحشت تاییدوي او په اصطلاح قانوني
بڼه ورکوي .

په ټوله ټوله مسلمان او اسلامي هېواد نه پوهېږي چه
په افغانستان کې د روسانو لاس پوڅي راوستل شوي
غیرقانوني واکداران ، له خدایه منکر ، بې دینه او ملحد دي .

له دې سره - سره بیا هم د الأزهر د پوهنتون دیوه
هیئات مشر چه ـ نجار ـ نومېږي ، ملحدې ، اناهیتا ، ته د
خدای کلام ، قرآن کریم ـ هدیه ورانده کوي .

موږ د الأزهر له پوهنتون یوه غټه اسلامي کیله لرو
ځکه چه هغه د ټولو مسلمانانو او اسلامي نړۍ د امید
ځای او د شرعي فتوا ګانو مرکز دی .

« عبدالباري ـ غیرت »

# کمونستی

د پوهانو په وژلو ټ هستی شوه
په شرابو په فحشاء ټ بد مستی شوه
اړه دوړ - تروور وحشت جهل ځنځیرونه
د عوامو قتلول کمونستی شوه.

# سوسیالستی

سوسیالیزم د کمونو خواته قدم دی
په وحشت کښې که اول نه دی دوه یم دی
سړی ونیسی په تبر مرګ ته خوښ شي
د فطرت د تقاضاء نه پېچ او خم دی.

# ماتریالیزم

خوی خاصیت ټ له حیوانه سره تیک دی
د نیزې په وسیله ټ پکښیک دی
پوچ دلیل بر ټ منې په پټو ستونګو
همدغه ماتریالیزم دیالکتیک دی.

# رادیکال

چه غوښتونکی د فتنو او د جنجال شي
چه سبب د لوی آشوب او د قتال شي
د فساد هوا جوړه چه یو دم خوا ږي
په قاموس د کمونسټ کښې رادیکال شي.

# خلقی

چه د فسق فساد په لوړیې ترقی شي
چه ممتاز په بې دینۍ کښې خلقی شي
پلار آزاد او مور آزاده له کوره تښتی
دکمون په اصطلاح مترقی شي.

# مادیت پرستان

هغه څه چه موږ ترې بد ډیر د وی ترې ښه ډیر
دا چه موږ ترې ډیر ترخه د وی ترې خوږ ډیر
له معنا او فضیلت څخه انکار کا
مادیت د بربریت په لوړیې ټله ډیر

په خوراک پوښاک کښې جوړتر ېنه حیوان شي
کمون ژوند له انسانیت څخه واته دي

ظاهر بین دي درند و مقلدین دي
له اسرار د کائنا تو خبر نه دي.

## بې باورۍ

د اخلقیان چه منکر شوي دي له خدایه
نړیدلې ېې کلا بنسکارۍ له وړایه
د اعمالو په حساب ېې باور نشته
ځکه ظلم او قتلونه کا بې ځایه.

## د کمونزم کارګر

چه بې فکره بې احساسه نا خبر دی
چه په لاړ د کمونزم کښې اوسېږ دی
چه بې دین بې عقیدې او حرام خورو وي
نو هغه ېې زحمتکش او کارګر دی.

## دکمونزم بزګر

چې حاصل د پردی نړۍ لکه غل وړي
چې دبل دلاس اوپښو د زیار عمل وړي
که بزګر د کمونزم وي په حقه
نو بې ولې په زیږ رنګ دغه شړل وړي.

## ظاهربینی

په بشکاره څیز اعتقاد ظاهربینی ده
دا چې غوره پوه انسان ته ده معنیٰ ده
چې دنیا ته په سطحي نظر کاته کا
مزخرفه د الحاد جهان بینی ده.

## دیموکرات

چې غلام او لاس کتوپه بې حیات شي
چې د خپل ولس په لور بې سوقیات شي
چې د روس د استعمار لومړکښې کیوزي
بیا هغه نو هم خپلواک هم دیموکرات شي.

## پرولټري ديکټاتوري

که دې لاس اوپښې تړي خو مټګاري ده
که دې مال وړي که دې وژني همکاري ده
چې د دوست او د دښمن توپير پرې نشته
دغه رنګ ديکټاتوري د پرولټري ده.

## طبقاتي مبارزه

پکښې تل نا باوري بې ثباتي ده
په چپه مفهوم جاري ديموکراتي ده
د تروردوام بې سولې نا آرام ژوند
همدغه مبارزه طبقاتي ده.

## د کمونزم هدف

د کمون هدف قدرت ته رسيدل دي
وعدې تشې دي د خلکو غولول دي
سياست کښې چې کامياب شي بيا ټګوړه
چې بې ځرنګه نيول ځنګه وژل دي.

## روبنا

روبنا ئې له عادت مخالفت دی
له اخلاقو لرې توب دی حیوانیت دی
د ځنګل قانون تر سیوري لاندې ژوند دی
هر عمل ئې په خلاف د انسانیت دی.

## دکمون مرام

دکمون مرام دهغې څیز مرواجول دي
اقتصاد کښې د مالونو لوټول دي
فلسفه کښې له خدائ ئې فکر د انکار دی
سیاست ئې اختناق دی او وژل دي.

## بورژوا

د خلقي سره چه کړي چا جنجال دی
په قدرت کښې دکمون ئې بیا څه حال دی
بنسټ ئې نړۍ ټول کړي جیل ته وردننه
دده مرګ و مرته جائز مال ئې حلال دی

پس له مرګه ېې هم زړه نه پرې یخیږي
نو مولی ېې بورژوا، اویا فیودال دی.

## دکمون قانون

که امین مزدور د هاوس اوکه ترک دی
که غلام حلقه بګوش ېې هم ببرک دی
د اقانون د کمونزم دی جهان کښې
هرا پجنټ ېې مختورن او سپک او وړاندی دی.

## کمونستی اقتصاد

کمونست کښې اقتصاد که سیاست دی
د یو خوتنو محدود و پرې قدرت دی
داچه دوی د غه قدرت له خانه سلب کا
ناممکن او مستحیل د غه حالت دی.

# مارکسیزم

مارچه پورته شي مارکسیزم تري جوړیږي
لیونی شي لینینیزم تري جوړیږي
کړي چچل او د منطق په لحاظ ګومړه
چه شي مات ماتریالیزم تري جوړیږي.

# مذهب

تازده کړي بې رحمي په کوم مکتب کښې
تاویلي ده ځنځا په کوم ادب کښې
په ناموس تیري، وژل به روا نه وي
بې له مارکسه په کوم دین په کوم مذهب کښې.

# پلار وطنی جبهه

چه هدف یې د هریت او بې دیني ده
چه یې بل لره وړکړي واکمني ده
مور یې کینولې ګروپه کړي ملین کښې
اوس یې خود نامرده جبهه پلار وطني ده.

## د تاریخ جبر

اسلام پۍ ښوده تاریخ څپلی
د نن له موده شاته لویدلی
د تاریخ جبر څنګه نابود کا
هم سوره تره کی هم پۍ سوره کلی.

## سیاست

امین به ویلې چه دین جدا دی
د سیاست نه ببنی سوا دی
خو دوی لمونځونه له سیاست کړل
داسې منطق هم د کوم بل چا دی.

## نړۍ ماتیدونکی انقلاب

چه بې پته بې عزته او بې آب دی
دوکه شوی چه نادان په دې سراب دی
چه ولاړ دالوتکې په وزر وي
نو هغه نړۍ ماتیدونکی انقلاب دی.

# خلاق

انقلاب کښی ئې هروان چه انقلاق دی
چه ئې خپور په تول ولس کښی اختناق دی
چه دې پوست اویاژوندی په نړۍ کښ خبر کا
نوهغه هم تیور یسن او هم خلاق دی.

# ددفاع کمیټې

که ددفاع یې ئې څو کمیټې دي
خوله کښی پرمتې ئې دروس جوتې دي
دخلق پرچم نه ورسن اوبه شوی
که هوسان نه وي دیوې گنټې دي.

# تکاملی مرحله

د غوایه مشریم چه راغی بدحالي شوه
ورځ لا خواړه دبنگړ اوجوالي شوه
بیا غم جوړشوپه تمام افغانستان کښی
مرحله چه نوې بیا تکاملي شوه.

# خلقي سازمان

د بې دينۍ دی پکښې درسونه
خدای ج ته کښې وې بد نسبتونه
يو له فحشاء دي سبا ببګاه دي
د خلق سازونه که سازمانونه.

# سیاسي بیرو

نا انسانه او بې شرمه بې آبروده
وينې څښونکي او سفاکه او بې رحمه
پليت سپی دي د خلق راسوريدلي
که د خلق او د پرچم پوليت بيروده.

# خلقي شورا

دا افغان هره لوبشت زمکه کربلا ده
لوی وحشت دی جوړه کړې بې غوغاده
د سورجي لښوان را غونډ دي په مزاره
که د خلق يا د پرچم عالی شورا ده.

# پلینوم

هر بې وسه ټیرکړې ترحلقومدی
دانصاف او عدالت جهان ټکوم دی
پو لیکان پل چرخی ټ قتلگاه دی
د الحاد مرکز ټ یاد په پلینوم دی.

# دخپلې خوښې کار

نوم به پرې کیږ دې د اختیار کار
په حقیقت کښی دی دبېگار کار
دامریټوب دی دا غلامی ده
دکمونسټو دا د اجبار کار.

# دبې سوادی کورس

د روسی تورو درنده کول دي
د دین او ژبې تړې هیرول دي
د جواسیسولو په دستگاه ده
دسپینو خلکو توركښې نیول دي.

# بـرژ نیـف[۱]

غوږ کښې مې شوی غږ د هاتف دی
چې جهان پاک شو ورک اف که ایف دی
لوی تعفن وُ نړمکه کښې خښ شـو
که مردار شوی نن بـرژ نیف دی.

# پـوزانـوف[۲]

خپله پوزه دې کړه غوڅه پوزانوفه
ذره چاود دې بـرژ نیف کاتر سوسلوفه[۳]
ښـایئ واخلې پند عبرت له تیرو تیرو
گوره پښـه دې خطا نشي اندرې[۴] وپوفه.

---

(۱) د روس دیکتاتور.
(۲) د روس لوی سفیر په کابل کښې.
(۳) د روس نظامی دیکتاتور.
(۴) د روس نوی دیکتاتور.

# یاسر عرفات (۱)

په لباس کښی د اسلام چه قظاهر کا
له بې مغزه پوچه سړه مې زړه توردی
عرفات نوم د مرکول د مرته گناه ده
له گیدړ غوندې یاسره مې زړه توردی.

•

# تره کی

هغه څنگه به انصاف ملک کښی جاري کا
یا د بید ډبره چه ولس کښی د بورې غل
سوه مو بنک وتر بالښت لاندې مړاشو
د جوال غل د بوجه غل د توبرې غل.

---

(۱) د فلسطین مشر .

# اندرو پوف

برژ نیف هسې یو خام کلـه وُ
د وحشت کار ته مدام شلـه وُ
په مرګ ېُ خاندي اتن ننځا کړي
اندرو پوف پوف وُ او یو دلـه وُ.

•

# چیرُ نینکو (۱)

شو و تباه له قساوت د پوزانوفه
له وحشت د بریژ نیف او اندرو پوفه
چه څیرل نینه کول او هم کوبل کا
بیا به څه تمه لرو له چیرُ نینکوفه.

---

(۱) د روس نوی دیکتاتور.

# قـــذافی (۱)

که اسد (۲) حافظ د کفر او بې دینۍ دی
قـذافی له هغه تیر باغی لعین دی
که صدام (۳) تل له اسلام سره تکر کا
خو علی (٤) ناصر هم ورته دیر نفرین دی.

# مادایم مریم (٥)

څه به وشي که صورت بې د آدم دی
په خصلت کښې له حیوانه سره سم دی
د الحاد اجنټ قاتل د مسلمانو
بې زړه سویه او سفاک مادام میریم دی.

---

(۱) د لیبیا دیکتاتور.
(۲) د سوریې دیکتاتور.
(۳) د عراق دیکتاتور.
(٤) د جنوبی یمن دیکتاتور.
(٥) د حبشې دیکتاتور.

PROPERTY OF ACKU 6661

# بن جدید (۱)

د شخصي قدرت طالب دويم يزيدي
له انصاف او عدالت څخه بعيد دی
د اسلام او بې طرف جهان د پاره
لوی آفت چې شاذلی بن جديد دی.

# اندرا گاندی (۲)

ورته اينبی چې روسانو د شلمه وه
گاندي بوخته د خلقيانو په نغمه وه
سړي ليتاړي ټاله پښو او سينې تاوې
دا له خيرې د کمون ستر کې ليمه وه.

---

(۱) د الجزاير ديکتاتور.
(۲) د هند ديکتاتوره.

# فیډل کاسترو[1]

ښځتیا خبره ده دخرومشر دی
چې پۍ منلې ده د سرومشر دی
دکرملین یوګوډاګی دی او ګډ
دکیوبا فیډل کاسترومشر دی.

•

## لویه جرګه

چه جوړه کړې پې لویه جرګه ده
دا د توکلو - لعنت جـــوګـه ده
د سـرو غوایانـو، دا سور وحشت دی
چه ورته کړې پې ښکـر او اوګه ده

---

(۱) دکیوبا دیکتاتور.

# ستالین

ستالین وژلی ډیر عالمونه
په زوریې ایل کړل آزاد ملکونه
دکمونزم په خره چې سپورشي
بیا به کوئ نو دا رنګ کاروفه

# ببرک

بې ننګی راغله شرم ونښت د وطن په لمن
ماچې هغه تري پاکاوه وربانديې نور پورې شو
له عقله تور ببرک کارمل ؤد روسانو مزدور
دکمون ځل ځکه په دغسې شاه تور پورې شو

# کوربا چوف

په قدرت چه رسید لې کوربا چوف دی
سیاست یې هماغه دا لندروپوف دی
دوی له یوه پرې نه سردی را یستلی
تری حذرکړی په آخرکې یې چه اوف دی

# کرومیکو

کرومیکو له ابتداء پیدا له شردی
پیدا کړی یې دنیا کې شور او شر دی
آمتحان کې د وژنو دی پوخ شوی
دی له تولو سرو خرسانو نه بدتر دی

---

۱ د سروسانو اوسنی دیکتاتور
۲ د سروسانو بهرنی سیاستمدار

# رامش چندرا

په وطن باندې راغلی ده بلا
خپره پره خون آلوده ده فضا
له سپین بډوینې کرل هیرحکایتونه
د ماشوم په خوله کې وچه ده خندا
چه د بل ډول ته ګډیږي هغه تهٔ یې
ای له حاله ناخبر رامش چندرا



---

۱ د هند کمونست

# دمؤلف آثار

۱ـ شرعي حدود او د هغولپاره تنظیم (چاپ) ستره محکمه.
۲ـ افغانستان او د اسلام څېړیدل (چاپ) د عدلیه وزارت د قضاء عالي اداره.
۳ـ عربي صرف د اوومو ټولګیو (ژباړه چاپ) د پوهنې وزارت.
٤ـ په افغانستان کښې لیدلی حالات (چاپ).
٥ـ د مسلمان افغان فریاد (چاپ).
٦ـ افغانستان آزاد دیږي (چاپ).
۷ـ آثار چاپي د رمعضلهٔ افغانستان (چاپ) پشاور یونیورسټي ایریا سټدي سنټر.
۸ـ پشتو فارسي انګلیسي اردو بول چال (چاپ) صابري بک ډپو.
۹ـ الفاجعهٔ عربي (چاپ).
۱۰ـ امام ابوحنیفه المتکلم (ژباړه) چاپ ته تیار د اطلاعاتو او کلتور وزارت ـ دغه کتاب په دولتي مطبع کښې د خلقیانو له خوا بند شو.

۱۱- په افغانستان کښې محکمې او دهغو صلاحیتونه (چاپ) د عدل وزارت د قضاء عالي اداره.

۱۲- د مولانا جامي ملغلرې (چاپ ترتیار) دپوهنې وزارت پښتو ټولنه - د خه کتاب په دولتي مطبعه کښې د خلقیانو له خوا بند شو.

۱۳- د غیرت آواز (ناچاپ).

۱٤- درد دل (ناچاپ).

۱۵- لمبه (ناچاپ)

۱٦- ادبي اوښکې (چاپ)

۱۷- بنکلي اشعار (چاپ)

۱۸- غزا (چاپ)

۱۹- اوسني مسلمانان (چاپ) ژباړه

۲۰ خونابه (چاپ)

۲۱- انقلاب (چاپ)

۲۲- نوی شعر (چاپ)

۲۳- کمونستي اصطلاحات (چاپ)

۲٤- بیړه د معتبرو احادیثو په رڼا کې (چاپ) ژباړه

۲۵- د اسلامي امت امام (ناچاپ)

۲٦- دیني بنوونه او روزنه (چاپ ته تیار) د جهاد د ثقافتي شورا له خوا

۲۷- دښوونکي لارښود (چاپ ته تیار) د جهاد د ثقافتي شورا له خوا

# د نشراتی مراکزو سره
# د مؤلف همکاری

۱- په کابل راډیو کښې د ډینی موعظی او مشاعرې .
۲- په پېښور راډیو کښې سیاسی مبصر .
۳- د جمهوریت په ورځپاڼه کښې حقوقي مشاور او قلمی همکار .
٤- د قضا په مجله کښې مسئول مدیر اوله هغه وخته قلمی همکار .
٥- د انیس په ورځپاڼه کښې قلمی همکار .
٦- د پیام حق په مجله کښې "
۷- د هیواد په ورځپاڼه کښې "
۸- د ژوندون په مجله کښې "
۹- د پښتون ژغ په مجله کښې "
۱۰- د ولایاتو په خبرونو اخبارونو کښې "
۱۱- په اخبار عرفان کښې "
۱۲- د عرفان په مجله کښې "
۱۳- د پوهنې په مجله کښې "

| | |
|---|---|
| ۱۴- د نړیږی په جریده کښی | قاسمی همکار |
| ۱۵- د کابل په مجله کښی | " |
| ۱۶- د سړی میاشتی په مجله کښی | " |
| ۱۷- د بنو وونکی په مجله کښی | " |
| ۱۸- د اصلاح په ورځپاڼه کښی | " |
| ۱۹- (د نجونو د زړل) په مجله کښی | " |
| ۲۰- د (میرمن) په مجله کښی | " |
| ۲۱- د پامیر په جریده کښی | " |
| ۲۲- د کهول په مجله کښی | " |
| ۲۳- د فولکلور په مجله کښی | " |